د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز

علمي څېړنیز - سیمینار

# د ماشوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې

## د علمي - څېړنیز سیمینار لپاره د مقالو غوښتنه

### د موضوع ارزښت

د ماشــوم ادبیات د هغوی د فکري او رواني ودې او پرمختګ د پروســې مهمه برخه ده. په دې ډول ادبیاتو کې د ادبي آثارو هغه مجموعه شــامله ده چې د یوه ځانګړي عمر لپاره کښــل کېږي؛ یعنې د ماشــومتوب له پیله تر بلوغه پورې. په دغو ادبیاتو کې هغه کیســې، نظمونه، احســاســات او نظرونه شــامل دي چې د ماشــومانو د پوهې او د درک له کچې سره ســمون لري. د ماشـــوم ادبیات د خپلې اســاني او ســاده ځانګړنو سره سره ښوونیزه، روزنیزه او تفریحي بڼه لري.

### د سیمینار موخه

د ماشــوم د ادبیاتو موخه د هغوی د لوســتلو او لیکلو مهارتونو ته وده ورکول، د ژبنۍ پوهې لوړول او داســې موضــوعات وړاندې کول دي چې هغوی تخلیقي او انتقادي فکر ته وهڅول شي. د ماشــومانو لپاره شــعرونه، کیسې او کتابونه لیکل یوازې د تفریح وسیله نه ده، بلکې دا تعلیمي او روزنیز وسایل دي چې د ماشوم ادراکي او رواني وړتیا ته وده ورکوي. ماشومان د کیسو له لارې اخلاقي او ټولنیز ارزښتونه، لکه ریښتینولي، استقامت، همکاري او درناوی زده کوي.
همدې او دې ته ورته نورو مسایلو ته په پام سره د افغانستان د علومو اکاډمي د بشري علومو معاونیت د ژبو او ادبیاتو مرکز پتېیلې چې «د ماشــوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې» علمي- څېړنیز ســیمینار د روان (۱۴۰۴ل) کال د سلواغې میاشتې په لومړیو کې دائر کړي.

### د سیمینار محورونه

۱- د ماشوم د ادبیاتو پېژندنه.

۲- د اسلام له نظره د ماشوم روزنه.

۳- د ماشوم په روزنه کې د ادبیاتو رول.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**د ژبو او ادبیاتو مرکز**

۴- د ماشوم ادبیاتو ښکلاپوهنیزه څېړنه.

۵- د ماشوم ادبیاتو ژبنۍ څېړنه.

٦- د ماشوم د ادبیاتو کره‌کتنه.

نو ټولو پوهانو، څېړونکو، استادانو او لیکوالانو ته په ډېر درنښت بلنه ورکوو چې په دې اړه خپلې علمي- څېړنیزې مقالې له ټاکل شویو پورتنیو محورونو او وضع شویو لاندې اصولو سره سمې ولیکي او برېښنلیک یا د وټساپ شمېرې ته یې د مرغومي میاشتې تر ۲۰مې نېټې پورې را واستوي.

د علمي کمیسیون د تأییدولو لپاره دې د مقالې سرلیک د ۱۴۰۴ل کال د مرغومي میا شتې تر ۴ مې نېټې پورې را واستول شي.

د مقالې د را لېږلو وروستۍ نېټه: ۲۰/مرغومی/۱۴۰۴ل

## اړیکې


- څېړنپوه محمد آصف احمدزی، asif.ahmadzai@yahoo.com، **وټساپ شمېره:** +۹۳۷۷۷۳۰۰٤۷۱
- څېړنپوه برهان الدین نظامي، br.nezami٤٢@gmail.com، +۹۳۷۰٤۲۳٥۰۲٥ ، **وټساپ شمېره:** +۹۳۷۰٤۲۳٥۰۲٥
- څېړنوال احسان الحق کبیر، ehsanulhaq.kabir@gmail.com، **وټساپ شمېره:** +۹۳۷٤٤٤۸۷۳۳٥


## د مقالې لیکنې اصول

۱) مقاله دې د لیکوال له نوم، تخلص، علمي رتبې (که یې ولري)، دندې، اړیکې شمېرې او برېښنلیک سره مل پورتنیو ادرسونو ته را ولېږل شي.

۲) را لېږل شوې مقاله علمي- څېړنیزه، نوې او له منل شویو علمي معیارونو سره برابره وي.

۳) مقاله به په بل ځای کې نه وي خپره شوې.

٤) د مقالې جوړښت دې په دې ډول وي:

- Abstract یا خلاصه
- لنډیز
- سریزه
- موخه او مبرمیت

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز

- کلیدي کلمې
- د څېړنې پوښتنې
- مېتود
- اصل متن
- پایله
- وړاندیزونه
- مأخذونه

۵) په مقاله کې مأخذونه د APA په بڼه وي.

۶) مقاله د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املايي او انشايي تېروتنې ونه لري او اداري ته دې هارډ او سافټ (word) بڼه را ولېږل شي.

۷) د سـیمینار علمي کمیسـیون د علومو اکاډمۍ د نشـراتي لایحې له مخې د مقالې د تأیید، رد او اصـلاح واک لري.

۸) په سیمینار کې د مقالې یوازې مهمې برخې او لنډیز د (۱۰) دقیقو په حدودو کې وړاندې کېږي.

واټس اپ شمېرې: ۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱، ۰۷۰۴۲۳۵۰۲۵ ایمیل: br.nezami٤٢@gmail.com ,asif.ahmadzai@yahoo.com